مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۸/۰۶

# د اقرأ حکم ترخَنگه

## د ثاني امرخبره

دغه حکم له کوم ځای درته راغلی
محتسب يي هم قاضي او هم قصاب

هدېرې د تیارو، ورځ تر بل زياتېږي
د محشر په ورځ به څه لري حساب

د اقرأ حکم واجب پر مسلمان دی
تعلیم حق د جنکو دی په حجاب

نه پوهېږم زماني دا څه روان دي
د غیرحکم دی جاري له کومه باب

يا تصمیم له بله ځايه صادرېږی
کهنه ولي دوي روان دي بي کتاب

ازادي ربه په برخه د افغان کړې
نور تر څو به غلامان يو د جناب

د اومید ببرۍ مو مخ په غرقیدو ده
ربه خلاص مو کړه له قهره د دریاب

۲۹د جولای ۲۰۲۶کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ